

# څرنګه باید لمونځ ادا کړم؟

لمانځه د اداکولو بشپړ طریقه او په اړه یې یو څو د سوچ او فکر خبرې اترې

# څرنګه باید لمونځ ادا کړم؟

لمانځه د اداکولو بشپړ طریقه او په اړه
يې يو څو د سوچ او فکر خبرې اترې

مركز أصول
OsoulCenter

ⓒ **جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، ١٤٤٦ هـ**

**مركز أصول**

كيف أصلي: شرح مصور لكيفية الصلاة مع وقفات مع هذه الشعيرة العظيمة باللغة البشتو. / مركز أصول - ط ١. .- الرياض ، ١٤٤٦ هـ

٤٨ ص ؛ ١٤.٨ x ٢١ سم

**رقم الإيداع: ١٤٤٦/١٨٩٧٤**

**ردمك: ٩-٩٠-٨٤٣٨-٦٠٣-٩٧٨**

- د مرکز لخوا ددې اصدار تصمیم تر تیب کړی شوی دی
- دا مرکز ددې اصدار چاپول یا خپره ول چې په هره مسیله سره وي اجازت ورکوي په دې شرط چې هیڅ ډول بدلون به په کې نه کوي او خپل اصلي مصدر ته به په کې اشاره کوي
- د چاپولو په صورت کې باید د کره والی معیار په نظر کې ونیول شي کوم چې د مرکز لخوا د اعتبار وړ دی

بسم الله الرحمن الرحيم

د الله پاک په نوم چې عام او خاص مهربانه دی پیل کوم

# سریزه

ټول په ټوله ثنا او صفتونه یواځې الله پاک لره دي، درود او سلام دې وي زمونږ په خوږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه په خاندان او ملګرو باندې، له حمد وثنا څخه بعد:

د اسلام مقدس دین د خیر ښیګنړې دین دی، بنیاد یې په ښه طریقه د الله پاک بندګي او د هغه سره اړیکه نیول او د هغه بندګانو سره ښیګنړه کول دي.

لمونځ دبنده او د هغه د پروردګار تر مینځ ډېره پیاوړې اړیکه او تړاو دی، لمونځ د لوړ شان والا عبادت دی، په لمانځه کې بنده د خپل پروردګار مخامخ د عبادت په نیت ودریږي، د الله پاک حمدو ثنا وایې او هغه په لویې سره د محبت ویرې او امید په بنیاد یاده وي.

لمونځ خورا ډیر غوره والی او فضیلت لري، د اسلام مقدس دین دوهم بنادي بنسټ دی، د کلمې طیبې ویلو څخه بعد تر ټولو غوره عمل دی، او جنت ته د داخلیدلو په لاملونو کې تر ټولو ستر لامل دی.

په لمانځه سره الله پاک د بنده مرتبې او مقام لوړه وي، او د لمانځه په وجه الله پاک بنده ته ګناهونه ښې، لمانځه ته په مزل کولو سره د بنده لپاره نیکیانې لیکل کیږي، او لمانځه ته په تګ راتګ د بنده لپاره په جنت کې میلمستیا تیاریږي.



ملائکي لمونځ کونکي ته تر هغه وخت پورې دعاګانې کوي تر څو چې هغه د لمانځه په ځاې کې وي په لمانځه باندې الله پاک ګناهونه ببښي د لمانځه خورا ډېرغوره والی په قرآن او حديث کې راغلي دی، لمونځ الله پاک خپل پيغمبر ته پرته د جبريل د واسطې نه ورکړی دی بلکه داچې لمونځ الله پاک خپل پيغمبر ته د معراج په سفر په اسمانونو کې ورکړی دی.

د الله پاک وينا ده: ﴿ٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَصۡنَعُونَ ٤٥﴾ [العنكبوت:٤٥]. ژباړه: لوله هغه کتاب چې تا ته وحی کړل شوی دی او لمونځ ترسره کوه، بې شکه لمونځ له بې حيايي او ناوړه کارونو څخه ايسارول کوي، او د الله يادول ډېر لوی (شی) دی او الله ته هغه څه معلوم دي چې تاسې يې کوئ.

د جابر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: : «مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ كَمَثَلِ نَهْرٍ جَارٍ غَمْرٍ عَلَى بَابِ أَحَدِكُمْ، يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ» رواه مسلم ژباړه: د پنځه لمونځونو ادا کول داسې مثال لري لکه چې په تاسې کې د يو تن د کور دروازې سره يو ژور نهر وي او دا په هغه نهر کې د ورځې پنځه ځل غسل کوي او په هغه نهر کې لامبي. رواه مسلم.

# مضامین

| موضوع | | د پاڼې شمیره |
|---|---|---|
| 1 | په لمانځه کې د زړه او نورو اندامونو خشوع | 9 |
| 2 | فرضي لمونځونه | 13 |
| 3 | د لمانځه له احکامو څخه | 15 |
| 4 | څرنګه باید لمونځ اوکړم؟ | 17 |
| 5 | لمانځه لره باطل کرځونکي شیان | 32 |
| 6 | مانځه لره مکروه کرځونکي شیان | 33 |
| 7 | د مریض لمونځ | 35 |
| 8 | د مسافر لمونځ | 36 |
| 9 | د ښځینه اړوند د لمانځه ځانګړي احکام | 37 |
| 10 | سؤالونه او ځوابونه | 40 |



# په لمانځه کې د زړه او نورو اندامونو خشوع

په لمانځه کې خشوع کول د لمانځه لپاره د روح او ساه حیثیت او بڼه لري کله چې یو څوک لمونځ په خشوع سره ادا کوي نو زړه یې نرم او توجه یې مانځه ته وي او نور اندامونه یې هم په سکون او ارام وي، د لمانځه نه بهر سوچ او فکر نه کوي.

په لمانځه کې د خشوع خیال نه کول د لمانځه اجر او ثواب کې نیمګړتیا راولي، او کله نا کله یو بنده په لمانځه کې د خشوع نه کولو په وجه ګناهګار هم شي، نبي کریم صلى الله عليه ويلي دي :«إِنَّ الْعَبْدَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ؛ مَا يُكْتَبُ لَهُ مِنْهَا إِلَّا عُشْرُهَا، تُسْعُهَا، ثُمُنُهَا، سُبُعُهَا، سُدُسُهَا، خُمُسُهَا، رُبُعُهَا، ثُلُثُهَا، نِصْفُهَا» رواه الإمام أحمد. ژباړه: یو بنده به لمونځ وکړي مګر اجر او ثواب به یې لسمه برخه وي یا نهمه برخه وي، یا اتمه برخه وي او یا اوومه برخه وي، یا شپږمه برخه وي، یا پنځمه برخه وي، یا څلورمه برخه وي، یا دریمه رخې وي، یا نیمايي برخه اجر او ثواب ورته ور په برخه شي. رواه الإمام أحمد.





## په لمانځه کې د خشوع پیدا کولو لاملونه:

۱ د الله پاک څخه د خشوع دعاګاني غوښتل.

۲ لمانځه ته د ورېدو څخه مخکې د نورو کارونو او فکرونو څخه خپل ذهن پاک کول.

۳ لمانځه ته پاکې جامې په تن کول او خوشبو لګول.

۴ په کور کې بشپړ اودس کول.

۵ د جامو او خولې څخه هر ډول بد بو لرې کول.

۶ که د لمانځه په وخت کې خوراک راوړل شي نو لومړی خوراک کول ترڅو په لمانځه کې ذهن خوراک ته متوجه نه شي.



٧ چې کله یو څوک قضاحاجت ته اړتیا لري باید لومړی قضاحاجت وکړي تر څو لمونځ په ارام سره ادا کړي.

٨ د لمانځه لپاره مسجد ته په ارام او وقار سره تلل او منډې نه وهل اګر که جمع ولاړه هم وي ځکه چې منډې وهل د انسان ذهن کډ وډ کوي.

٩ د کور څخه د وتلو او مسجد ته د تللو مسنون دعاګاني ویل.

١٠ مسجد ته داخلیدلو سره سم دوه رکعته تحیة المسجد نفلي لمونځ ادا کول.

١١ لمانځه ته د انتظار په شیبو کې د الله پاک ذکر کول او د دنیا خبرو اترو څخه ډه ډه کول.



# فرضي لمونځونه

الله پاک په مسلمانانو باندې په ورځ او شپه کې پنځه وخته لمونځ ادا کول فرض کړي دي او د هغې لپاره يې ځانګړې وختونه مقرر کړي دي چې ترتيب يې داسې دی: لومړی د سهار لمونځ، بيا د ماسپښين لمونځ، بيا د مازديګر لمونځ، بيا د ماښام لمونځ، بيا د ماخوستن لمونځ، بيا د هر يو لمونځ ځانګړي رکعتونه دي هر يو لمونځ د ټولو رکعتونو سره ادا کول لازم دي، او د هر يو لمونځ لپاره ټاکلی وخت وي چې په هغه وخت کې دهغه لمونځ ادا کول لازم دي، د لمانځه وخت د نبوي حديثونو کې د علامو او نښو نښانو په مټ يا ددې زمانې د ساعتونو په مټ او همدغه شان د مؤذن په اذان سره د لمونځونو وختونه معلوميدلی شي.





# د لمانځه اړوند مسائل او احکام:

۱ که یو مسلمان هر څومره ګناهګار وي لمونځ به نه پریږدي ځکه چې که یو څوک په بشپړه توګه لمونځ پریږدي نو د مسلمانانو د جماعت څخه خارجیږي.

۲ سړي به لمونځ په مسجد کې په جماعت سره ادا کوي ځکه چې لمونځ په مسجد کې په جماعت سره ادا کول ډیر غوره دی د یواځې لمونځ ادا کولو نه، مګر لمونځ په هر پاک ځای کې صحیح کیږي لکه په کور کې یا په بل پاک ځای کې.

۳ هر یو مسلمان باید لمانځه کې د داخلیدلو نه مخکې اودس کول په ښه بڼه و پیژني همدغه شان باید خپل عورت پټ کړي او په پاکۍ سره لمانځه ته ودریږي.

۴ که چیرته لمونځ کونکی امام وي یا یواځې لمونځ کونکی وي غوره داده چې خپلې مخې ته ستره ودره وي لکه دیوال وغیره تر څو یو څوک یې مخې ته تیر نه شي او په لمانځه کې یې فکر کډ وډ لاړ نه شي.

**یوه ګټوره فائده:** (په لمانځه کې پاکي: اودس کول، بدن پاک کول، او د لمانځه ځای پاک کول دي ټولو ته شاملیږي).

**یوه ګټوره فائده:** د لمانځه د صحت لپاره یو شمیر شرطونه دي د هغه شرطونو له جملې څخه، پاکوالی، نیت کول، قبلې ته مخامخ ودریدل، او د لمانځه وخت داخلیدل.





# څرنګه باید لمونځ ادا کړم؟

د لمانځه طريقه په عملي بڼه تشريح کول



# څلور رکعتیز لمونځ څرنګه ادا کړم؟

**په ښکاره بڼه د ماسپښین، مازدیګر، او ماخوستن لمونځ شرحه او بیان**

**١ قبلې په لور مخ کول:** قبله د مکې اړخ دی قبلې لور ته مخ کولو کې دا لازم نه ده چې کعبې ته به په بشپړ توګه مخامخ کیږي بلکه همدا بسنه کوي چې مکې اړخ ته مخامخ شي.



**٢ نیت کول:** په زړه سره د وقتي لمونځ نیت او اراده کول.

**٣ د لمانځه د پیل تکبیر (الله اکبر) ویل:**

أ) خپل لاسونه به د اړو یا غوږونو پورې پورته کړو په داسې طریقه سره چې د لاسونو ورغويي به قبلې ته مخامخ وي او **(الله اکبر)** به وايو، د تکبیر ویل په خوله باندې لازم دي.

ب) د تکبیر ویلو څخه بعد دا مسنون ده چې خپل ښي لاس په چپ لاس باندې د سنې د پاسه یا د سینې لاندې کیږدو کوم یو چې آسان وي.




همدا بارکوډ ته داخل شه او د لمانځه بشپړ طریقه په عملي بڼه وګوره.

ت) پــه ولاړه بایــد د ســجدې ځــاې تــه وګــورو، بــره یــا اخــوا دیخــوا بایــد نظــر ونــه کــړو.

**۴** د لمانځــه د پیــل دعــا ویــل: «**اللهمَّ نقِّني من خطاياي كما يُنقَّى الثَّوبُ الأبيضُ منَ الدَّنس، اللهمَّ اغسلْني من خَطَاياي بالثَّلج والماءِ والبَرَد**».
ژبـاړه: ای زمـا پـروردګاره، زمـا او زمـا د ګناهونـو تـرمینځ د مشـرق او مغـرب پـه څیـر لـرى والـى راولـه، اى زمـا پـروردګاره مـا د ګناهونـو څخـه د سـپینې جـام پـه څیـر پـاک کـړه، اى زمـا پـروردګاره زمـا ګناهونـه پـه واوره، اوبـو، او ږلـى سـره ووینځـه.

**۵** بیــا اعــوذ بــالله ویــل: «**أعــوذُ بــاللهِ مــنَ الشّــيطانِ الرّجيــم**».

ژباړه: په الله پاک پورې د شیطان رټلی شوي نه پناه غواړم.



**۶** بیــا ســورت فاتحــه یــو یــو ایــت پــه خشــوع او ارام ســره لوســتل، ســورت فاتحــه کــې ډیــرې عظیمــې دعاګانــې شــتون لــري پــه همــدې خاطــر د ســورت فاتحــې پــه آخــر کــې آمیــن ویــل راغلــي دي آمیــن دعــا ده معنــا یــې داده چــې ای پــرورد ګاره زمونږ دعاګاني قبولې کړه.

**۷** بیــا د ســورت فاتحــې لوســتلو نــه بعــد یــو ســورت یــا د یــو ســورت یــوه برخــه لوســتل.





## ٨ بیا رکوع کول:

أ) خپل لاسونه به د اړو یا غوږونو پورې پورته او **(الله اکبر)** به وایو، او د الله اکبر ویلو سره سم به رکوع ته لاړ شو.

ب) بیا به خپل لاسونه په زنګنونو باندې کېږدو او د لاسونو ګوتې به بېرته کړو او خپل زنګنونه به پرې کلک راونیسو.

ت) په ارام سره باید رکوع اوکړو او په رکوع کې سر د ملا سره سم کړو نه باید ډیر ښکته شو او نه باید ډیر پورته شو.

ث) خپل لاسونه باید د اړخونو څخه لرې وساتو او مخ باید په مینځ کې راولو یو طرف ته باید مائله نه وي بلکه په مینځ کې وي.

ج) او «**سبحانَ ربِّيَ العظیم**» باید درې ځل ووایو، درې ځل ویل یې د بشپړوالي لاندې درجه ده دډېنه زیات یې هم ویلي شو او یو ځل ویل یې د جواز درجه ده همدغه شان په رکوع کې نور اذکار هم راغلي دي.






**٩ د رکوع څخه سر راپورته** کول: خپل سر باید درکوع څخه راپورته کړو او لاسونه د اړو یا غوږونو برابر پورته کړو او که چیرته لمونځ کونکی یواځې یا امام وي نو باید «**سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه**». ووایې.

او کله چې د رکوع څخه راپورته شو نو زمونږ لپاره جواز لري چې لاسونه په سینه باندې ږدو او که نه ږدو.

**١٠ بیا به د رکوع** څخه بیرته راپورته شو او «**رَبَّنَا ولكَ الحَمْدُ**» به ووایو او ښه په اطمئنان سره به ودریږو.



## ١١ سجده کول:



أ) کله چې د سجدې لپاره زمکې ته ښکته کيږو نو د ښکته کيدلو په حالت کې به «**الله أکبر**». ووايو.

ب) سجدې ته د تللو لپاره به لاسونه د زنګنونو څخه مخکې يا رستو په زمکه کيږدو کوم يو چې آسان وي.

ت) په اوو اندامونو به سجده وکړو هغه دادي:




- په دې کې باید ښه پاملرنه وشي.

ث) د لاسونو ګوتې به د قبلې په لور مخامخ کړو او د لاسونو ورغوي به د اږو يا غوږونو سره برابر کيږدو او څنګلي به د ځمکې څخه لرې ساتو.

ج) همدغه شان به څنګلي د خپل اړخونو څخه جدا کړو خو چې کله نور لمونځ کوونو ته زيان او ضرر نه و.

ح) او د پښو ګوتې به د قبلې په لور مخامخ کړو او دواړه پښې به ودرو او وره نونه به د خيټې نه لرې ساتو.

خ) او بايد درې ځل «**سبحانَ رَبِّي الأعلى**» ووايو، درې ځل ويل يې د بشپړ والي لاندې درجه ده ددېنه زيات يې هم ويلې شو او يو ځل ويل يې د جواز درجه ده همدغه شان په رکوع کې نور اذکار هم راغلي دي.

د) او د الله پاک څخه د سجدې په حالت کې بايد د دنيا او آخرت خيرونه وغواړو.

**۱۲** **د سجدې** څخه به سر راپورته کړو او «**الله أكبر**» به ووايو او د دوو سجدو تر مينځ به لږ وخت کينو.





### ۱۳ د دوو سجدو تر مینځ کیناستل:

أ) خپلـه چپـه پښـه بـه پـه ځمکـه وغـوړه وو او ښـه پـه ارام بـه وربانـدې کینـو، او خپلـه ښـي پښـه بـه و دره و او یـا بـه دواړه پښـې ودره و او پـه پنـدو بـه کینـو.

ب) خپلـه ښـی څنـګل بـه پـه ښـي ورون بانـدې کیـږدو او چپـه څنـګل بـه پـه چـپ ورون بانـدې کیـږدو.

ت) دا دعـا بایـد ووایـو: «رَبِّ اغفِـرْ لـي، رَبِّ اغفِـر لـي».

### ۱۴ او د «الله أکبـر»، پـه ویلـو سـره بـه دویمـه سـجدې تـه لاړ شـو او د لومړی سـجدې پـه څیـر بـه ادا کـړو.

### ۱۵ او بیا به «الله أکبر» ووایو او د سجدې نه به قیام ته لاړ شو.



## ۱۶ او د لومړي رکعت په څیر به دویم رکعت ادا کړو:

- په سینه به لاسونه کیږدو، سورت فاتحه او ورسره یو بل سورت یا د سورت یوه برخه ولولو.
- بیا به الله اکبر ووایو رکوع به اوکړو او د الله پاک تسبیح به ووایو.
- بیا به د رکوع څخه راپورته شو او **سمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَه**. به ووایو.
- بیا به ودریږو او **ربنا ولك الحمد**. به ووایو.
- بیا به د الله اکبر په ویلو سره سجدې ته ولاړ شو او په سجده کې به د الله پاک تسبیح ووایو.
- بیا به د الله اکبر په ویلو سره د سجدې څخه سر راپورته کړو او دا دعا به ووایو: (**رب اغفر لي**).
- بیا به د الله اکبر په ویلو سره سجدې ته ولاړ شو او د سجدې په حالت کې به د الله پاک تسبیح ووایو.







## ۱۷ لومړی تشهد:

أ) بیا به د **الله اکبر** په ویلو سره د سجدې څخه سر راپورته کړو او د تشهد ویلو لپاره به کینو لکه څرنګه چې د دوو سجدو لپاره ناست و.

ب) د تشهد په مهال به خپل ښی لاس په خپل ښي ورون باندې کیږدو د ښي لاس ګوتې به راټولې کړو مګر د تشهد ګوته به نه راټوله وو بلکه په هغې سره به د قبلې لور ته اشاره و کړو یا به مینځنۍ ګوته د غټې ګوتې سره کړۍ کړو او د تشهد په سونده ګوته به قبلې لور ته اشاره کوو، او هر چې چپ لاس دی نو هغه به په چپ ورون باندې کیږدو او یا به وربانديې چپ زنګون ونیسو.

ت) د تشهد ویلو په وخت کې به د تشهد ګوتې ته ګورو.



ث) په دې الفاظو سره به تشهد ووایو:
«**التَّحيَّاتُ لله والصَّلواتُ والطَّيِّباتُ، السلامُ عليكَ أيُّها النبيُّ ورحمةُ اللهِ وبركاتُه، السلامُ علينا وعلى عِبادِ الله الصَّالحين، أشهدُ أن لا إلهَ إلَّا اللّه، وأَشهَدُ أنَّ مَحَمَّدًا عبدُهُ ورسولُه**». ژباړه: ټول ژبني او مالي او بدني عبا د تونه الله جل جلاله لره دي سلام او دالله رحمتونه اوبرکتونه دي وي په تا ای پیغمبره سلام دي وي په مونږ او دالله په نیکو بنده ګانو باندي زه ګواهي ورکوم چه بیله الله جل جلاله بل څوک دعبا دت لا ئق نشته ، اوزه ګواهي ورکوم چه محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او پیغمبردی.

**۱۸ د لومړي تشهد څخه دريم رکعت ته پاڅيدل**: دريم رکعت ته به د **الله اکبر** په ويلو سره پاڅيږو او لاسونه به د وږو يا غوږونو تر نرميو پورې پورته کړو او د لومړي رکعت په څير به دا رکعت هم ادا کړو مګر په دريم رکعت کې به يواځې د سورت فاتحې په لوستلو بسنه اوکړو.

- بيا به د الله اکبر په ويلو سره رکوع اوکړو او په رکوع کې به د الله پاک تسبيح بيان کړو.
- بيا به د **سمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَه**. په ويلو سره د رکوع څخه سر راپورته کړو.
- او په ولاړه به **ربّنا ولك الحمد**. ووايو.
- بيا به د الله اکبر په ويلو سره سجدې ته ولاړشو او په سجده کې به د الله پاک تسبيح ووايو.
- بيا به د لومړۍ سجدې څخه سره راپورته کړو او د ناستې په حالت کې به دا دعا ولولو: بربِّ اغفر لي.
- بيابه د الله اکبر په ويلو سره سجدې ته ولاړ شو او په سجده کې به د الله پاک تسبيح ووايو.

**۱۹ څلورم رکعت** ته به د الله اکبر په ويلو سره پاڅيږو او د ويم رکعت په څير به دا رکعت هم ادا کړو مګر په څلورم رکعت کې به يواځې د سورت فاتحې په لوستلو بسنه اوکړو.

- بيا به د الله اکبر په ويلو سره رکوع اوکړو او په رکوع کې به د الله پاک تسبيح بيان کړو.
- بيا به د **سمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَه**. په ويلو سره د رکوع څخه سر پورته کړو.
- او په ولاړه به **ربّنا ولك الحمد**. ووايو.
- بيا به د الله اکبر په ويلو سره سجدې ته ولاړشو او په سجده کې به د الله پاک تسبيح ووايو.
- بيا به د لومړۍ سجدې څخه سره راپورته کړو او د ناستې په حالت کې به دا دعا ولولو: بربِّ اغفر لي.
- بيابه د **الله اکبر** په ويلو سره سجدې ته ولاړ شو او په سجده کې به د الله پاک تسبيح ووايو.

## ۲۰ اخرنی تشهد:

أ) د الله اکبر په ویلو سره به سر د سجدې څخه راپورته کړو او د اخرني تشهد لپاره به کینو.

ب) د تورک په بڼه به د تشهد لپاره کینو تورک دیته وایې:چې ښي پښه به ودره وو او په چپ وررون به کینو او چپه پښه به د ښي پښې څخه د لاندې راوباسو.

ت) بیا به تر پایه پورې تشهد «**التحیات لله...**» ولولو او ورپه سې به درود ابراهیمي ووایو:«**اللهُمَّ صلِّ على محمَّد وعلى آل محمَّد، كما صَلَّيتَ على إبراهيمَ وعلى آل إبراهيمَ، إنَّكَ حميدٌ مَجيد، اللهمَّ بارِكْ علَى محمَّد وعلى آل محمَّد، كما باركتَ على إبراهيمَ وعلى آلِ إبراهيمَ، إنَّكَ حميدٌ مَجيدً**». ژباړه: الهي په محمد صلی الله علیه وسلَم اوپه آل د محمد صلی الله علیه وسلَم رحمتونه را ولیږه لکه څنګه چه دې په ابراهیم علیه السلام او دهغې په آل رحمتونه را لیږلي وو په رښتیا سره ته ستا یلی شوی اود لوړي خاوند یې الهي په محمد صلی الله علیه وسلم او په آل د محمد صلی الله علیه سلم باندې برکتونه راولیږه لکه څنګه چه دې په ابراهیم علیه السلام او دهغه په آل باندې برکتونه رالیږلي وو په رښتیا سره ته ستا یلی شوی اود لوړیی خاوند یی.

د درود ویلو څخه بعد بیا د نورو دعاګانو لوستل مسنون دي لکه دا دعا: «**اللَّهُمَّ إنِّي أَعُوذُ بِكَ مِن عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ**». ژباړه: الهي زه په تا سره دعذاب دجهنم نه پناه غواړم او دقبر دعذاب نه پناه غواړم او د ژوند او د مرګ دفتنونه پناه غواړم او د دجال دفتنې دشر نه پناه غواړم.

همدغه شان د دنیا او د آخرت د خیر دعاګاني باید وغواړو:



## ۲۱ سلام ګرځول:

ښي لور ته به مخ وګرځوو «**السلامُ عليكُم ورحمةُ الله**» به ووايو: بيا به چپ لورته مخ وګرځوو او «**السلامُ عليكُم ورحمةُ الله**» به ووايو په دې سره به زمونږ لمونځ پای ته ورسيږي.





## ۲۲ دلمونځ کونکي لپاره د سلام

ګرځولو نه بعد درې ځل استغفار ويل مسنون دي او ورسره به هغه اذکار کوم چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه ثابت دي.



# دوه رکعتيز او درې رکعتيز لمونځ باید څرنګه ادا کړم؟

أ) کـه لمونـځ دوه رکعتيـز وي لکـه د سـهار لمونـځ شـو نـو د دويـم رکعـت نـه بعـد بـه کینـو تشـهد بـه تـر پایـه ولولـو بیـا بـه درود ابراهيمـي ووايـو بيـا بـه سـلام وګرځـو.

ب) کـه لمونـځ درې رکعتيـز وي لکـه د ماښـام لمونـځ نـو د دریـم رکعـت ادا کولـو نـه بعـد بـه کینـو تشـهد بـه تـر پایـه ولولـو بیـا بـه درود ابراهیمـي ووایـو بیـا بـه سـلام وګرځـو.

پاملرنې:

١ پـه دوه رکعتيـز لمونـځ کـې لکـه د سـهار لمونـځ جمعـې لمونـځ د اخترونـو لمونـځ همدغـه شـان بایـد پـه درې رکعتيـز او څلـور رکعتيـز لمونځونـو لومـړي دوه رکعتونـو نـه بعـد بایـد تـورک ونـه کـړی شـي بلکـه افتـراش وکـړی شـي افتـراش ښـي پښـه ودره ول او پـه چپـه پښـه کیناسـتل دیتـه افتـراش وایـي.

٢ تـورک بایـد د درې رکعتیـز او څلـور رکعتیـز لمونـځ پـه اخـرني تشـهد کـې وکـړی شـي. تـورک دیتـه وایي:چـې ښـي پښـه بـه ودره وو او پـه چـپ ورون بـه کینـو او چپـه پښـه بـه د ښـي پښـې څخـه د لانـدې راوباسـو.

٣ مګـر کـه یـو چاتـه د تـورک یـا افتـراش پـه بڼـه کیناسـتلو کـې تکلیـف و نـو پـه هـره بڼـه چـې تـوان لـري بایـد کینـي.

# د لمانځه فاسده ونکي شيان:

۱- د تـوان او طاقـت سـره د لمانځـه پـه شـرطونو کـې د يـو شـرط له مينځــه وړل.

۲- قصدا يا سهوا د لمانځه يو رکن پريښودل.

۳- پــه قصــد ســره د لمانځــه پــه واجباتــو کــې يــو واجــب پريښـــودل.

٤- پـه قصـد سـره د اړتيـا پرتـه پـه لمانځـه کـې خبـري کـول يـا مـزل کـول.

٥- په لمانځه کې په قهقه خندا کول.

٦- په قصد سره په لمانځه کې خوراک يا څښاک کول.



د هيـرې او سـهوې خپـل ځانګـړې احــکام دي هــر يــو مســلمان يــې بايــد زده کــړي.

# په لمانځه کې مکروه کارونه:

يو شمير داسې کارونه دي چې لمونځ نه فاسده وي مګر د هغې کول مکروه دي لمونځ کونکی ترينه بايد ځان وساتي ځينې يې دادي:

۱- مخ اخوا ديخوا اړه ول په لمانځه کې.

۲- په لمانځه کې د خپل بدن يا جامو سره لوبې کول يا د ګوتو ځخه تقې ويستل.

۳- د يو داسې څه مخې ته لمونځ کول چې لمونځ کونکی غافله کوي.

٤- قضا حاجت ته د اړتيا په وخت لمونځ کول.

٥- په فرضي لمانځه کې ډک رکعتونه تش کول د سورت فاتحې سره بل سورت نه لوستل.

٦- د خوراک په شتون کې لمونځ کول.

۷- په لمانځه کې جامې راټوله ول.

او داسې نور





# د مريض لمونځ:

فرضـــي لمونــځ هيڅکلــه د يــو بالــغ عاقــل مســلمان څخــه نــه ساقطيږي مګـر يواځې هغـه ښـځينه چې د حيـض يـا نفـاس مرضتيـا يـې راشـــي.

مسلمان بايد هميشه لمونځ ادا کړي.

مګـر کـه چيرتـه يـو مسـلمان مريـض شـي او لمونـځ ادا کـول ورتـه سـخت وي نـو څـه بـه کـوي؟

د الله پـاک دا مهربانـي ده چې هيڅ يـو بنـده د هغـه د تـوان او طاقـت نـه بـره نـه مکلـف کـوي، کلـه چې يـو بنـده مريـض شـي او پـه ولاړه لمونـځ نـه شـي ادا کـولی نـو د هغـه لپـاره جـواز شـته چې د خپـل تـوان او طاقـت سـره سـم پـه ناسـته لمونـځ وکـړي او کـه چيرتـه پـه ناسـته لمونـځ نـه شـي کـولی نـو د هغـه لپـاره جـواز شـته چې د خپـل تـوان او طاقـت سـره سـم پـه ملاسـته لمونـځ وکـړي او کـه چيرتـه ډيـر مريـض وي او د لمانځـه د ادا کولـو څخـه عاجـز وي نـو د خپـل تـوان او طاقـت سـره سـم پـه اشـاره لمونـځ کـولی شـي.

او کـه چيرتـه پـه ناسـته لمونـځ نـه شـي کـولی نـو د هغـه لپـاره جـواز شـته چې د خپـل تـوان او طاقـت سـره سـم پـه ملاسـته لمونـځ وکـړي.

او کـه چيرتـه ډيـر مريـض وي او د لمانځـه د ادا کولـو څخـه عاجـز وي نـو د خپـل تـوان او طاقـت سـره سـم پـه اشـاره لمونـځ کـولی شـي.

او کـه چيرتـه پـه اشـاره هـم لمونـځ نـه شـي ادا کـولی نـو بيـا بـه پـه زړه سـره د لمانځـه د ادا کولـو نيـت کـوي.

د مريـض لمانځـه پـه هکلـه بنيـادي قاعـده: د لمانځـه کـوم واجبـات چې مريـض ادا کـولی شـي هغـه بـه ادا کـوي او چې کـوم څـه نـه شـي ادا کـولی هغـه ترينـه سـاقط دي.



# د مسافر لمونځ:

د اسلام مبارک دین له اسانتیاو څخه دا هم ده چې د مسافر لپاره لیې مونځ آسان کړی دی هغه داسې چې څلور رکعتیز لکه د ماسپښین، مازدیګر، او ماخوستن لمونځ به دوه رکعته ادا کوي.



# په لمانځه کې د ښځینه و ځانګړي احکام:

ښځینه په لمانځه کې د سړو په څیر دي مګر یو څه لږ شمیر مسائل دي کوم چې د ښځینه و لپاره ځانګړي دي، ځینې د هغې نه دادي:

- د حیض او نفاس مرضتیا په وخت په ښځینه و باندې لمونځ ادا کول نشته او نه وربانديې بیا د هغه لمونځونو قضایې شته.
- په ښځینه و باندې د جمعې لمانځه ته حاضریدل واجب نه دي.
- په ښځینه و باندې لمونځ په جماعت سره ادا کول واجب نه دي.
- په ښځینه و باندې په لمانځه کې خپل ټول بدن پټه ول واجب دي یواځې مخ او ورغیو پټه ول وربانديې واجب نه دي.



## پاې:

مونږ د الله پاک څخه دعا کوو چې مونږ او زمونږ مسلمانان ورونه او خويندې د اسلام مبارک دين دا عظيم بنياد او رکن په داسې ښه باندې د ادا کولو توفيق راکړي چې زمونږ پروردګار زمونږ څخه خوشحاله او راضي شي همدا دعا د الله پاک خاص دوست ابراهيم عليه السلام غوښتلې وه: ﴿رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ﴾ [إبراهيم:٤٠].

زما ربه! ما (هم) ښه لمونځ کونکی وګرځوې او له اولادې مې هم (داسې خلک پيدا کړه) زموږ ربه! او دعا مو قبوله کړې.

الله پاک ښه پوهه دی، وصلى الله وسلم وبارك على عبده ونبيّه محمد.



# سؤالونه او ځوابونه

## ۱ صحیح یا غلط نښان ولګوي:

- [ ] لمونځ ادا کول د بنده او پروردګار تر مینځ تړون دی بنده په لمانځه کې د خپل پروردګار مخامخ د هغه د تعظیم او جلال په خاطر ودریږي.
- [ ] د لمانځه ادا کولو په وخت په خشوع کې نیمګړتیا کول د لمانځه اجر او ثواب کمه وي.
- [ ] لمونځ ادا کول په هر مسلمان باندې واجب دی اګر که په ګناهونو کې اخته وي.
- [ ] د قبلې څخه مراد د مکې طرف دی.
- [ ] د مسلمان لمونځ د نیت څخه پرته هم صحیح کیږي.
- [ ] په لمانځه کې د سورت فاتحې لوستل بنیادي رکن دی  د سورت فاتحې لوستلو څخه پرته لمونځ نه صحیح کیږي.
- [ ] د هیڅ یو بالغ او عاقل مسلمان لپاره د لمونځ پرېښودل جواز نلري یواځې ښځینه به د حیض او نفاس په وخت لمونځ نه کوي.
- [ ] د مسافر لپاره څلور رکعتیز لمونځ دوه رکعته کول مشروع دي.
- [ ] د جمعې او جماعت لمونځ په ښځینه و واجب نه دی.
- [ ] کله چې لمونځ کونکی په ولاړه لمونځ نه شي کولی نو په ناسته ورلره لمونځ کول جواز لري.
- [ ] په لمانځه کې اخوا دیخوا کتل جواز لری.
- [ ] په لمانځه کې خوراک او څښاک جواز لري.
- [ ] که یو څوک د قبلې پرته بل لور ته لمونځ وکړي او دا کولی شي چې د قبلې لور معلوم کړي یا د یو چا څخه پوښتنه وکړي لمونځ یې صحیح دی.
- [ ] که یو څوک د سجدې په حالت کې د زمکې څخه د پښو ټولې ګوتې پورته کړي نو سجده یې نه صحیح کیږي.

٢ که د یو لمونځ کونکي شخه په لومړي رکعت کې یوه سجده هیره شي او بیا ورته په دویم رکعت کې وریاده شي نو آیا لومړي رکعت یې په یوه سجدې سره صحیح کیږي؟

☐ هو ☐ نا

٣ صحیح ځواب غوره کړه:

١. په هر مسلمان باندې د ورځې او شپې فرضي لمونځونه:

☐ اووه دي ☐ پنځه دي ☐ لس دي

٢. د لمانځه د صحت لپاره شرطونه:

☐ طهارت پاکوالی ☐ نیت کول

☐ قبلې لور ته مخامخ ودریدل ☐ پورته ټول ځوابونه صحیح دی

٣. په رکوع کې مسنون دعاګاني:

☐ سبحان ربي الأعلى ☐ سبحان ربي العظيم ☐ الحمد لله رب العالمين

٤. کله چې د تشهد شخه پورته شو څه باید وکړو؟

☐ د الله اکبر په ویلو سره به ودریږو بیا به سورت فاتحه ولولو بیا به رکوع وکړو.

☐ الله اکبر به ووایو او بیابه سجده وکړو

٥. که یو څوک د قضاحاجت ته د اړتیا په حالت کې لمونځ وکړي څه حکم لري؟

☐ مکروه دی ☐ حرام دی ☐ جواز لري

# سؤالونه او ځوابونه

## ۴ راتلونکي عبارت بشپړ کړه:

۱. د توحید او ایمانه بعد غوره عبادت هغه ..........................................

۲. د ماښام لمونځ ...................................... رکعته دی او ماسپښین لمونځ .. ...................................... رکعته دی.

۳. لمونځ په الله اکبر ویلو سره پیلیږي او په ...................................... سره ختمیږي.

٤.په ښځینه و واجب ده چې په لمانځه کې خپل ټول بدن پټ کړي مګر د ...................... ........................او ...................................... پرته.

## ۵ د لمانځه درې فضیلتونه ذکر کړه؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

## ٦ د لمانځه په اهمیت یو دلیل ذکر کړه؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

## ۷ په لمانځه کې د اخرني تشهد الفاظ بیان کړه؟

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

..........................................................................................

٨ د دوو سجدو په مینځ کې کومې دعاوې مسنون دي؟

.................................................................................................

٩ په سجده کې کومې دعاوې مسنون دي؟

.................................................................................................

١٠ په لمانځه کې د خشوع پیدا کولو لپاره یو څلور لاملونه ذکر کړه؟

.................................................................................................

.................................................................................................

.................................................................................................

.................................................................................................

١١ څلور رکعتیز فرضي لمونځونه کوم یو دي؟


.................................................................................................

١٢ که یو لمونځ کونکی په کرسۍ باندې کینې ځکه چې مریض وي او په ځمکه نه شي کیناستلی نو لمونځ یې څه حکم لري؟

.................................................................................................

١٣ که یو څوک په لمانځه کې په قصد سره لومړی تشهد پرېږدي لمونځ یې څه حکم لري؟

.................................................................................................




# لمونځ په اسلام کې د لوړ شان او مرتبې واله شعیره او فریضه ده

د لمانځه دا لویه فریضه کومه چې مسلمانان په شپه او ورځ کې پنځه ځل ادا کوي او ددې لپاره د ارام خوب او کارو کسب وغیره هم پریږدي دا ځکه چې لمونځ ادا کول د یو مسلمان لپاره داسې دي لکه یوه مهربانه مور چې خپل بچي ته غاړه ورکوي هر کله چې یو بچې وویرېږي په بیړه سره د خپلې مور غېږ ته ځان رسوي تر څو د ارام ساه واخلي همدغه شان د مسلمان لپاره لمونځ ادا کول دي نو په دې کتاب کې د لمانځه تفصیل او شرحه د الله اکبر څخه واخله تر سلام ګرځولو پورې او ورسره د لمانځه اړوند ځینې مسائل هم بیان شوي دي.

همدغه شان تاسې کولی شي چې په لیدنې بڼه د لمانځه طریقه ددغه بارکوډ په وهلو سره وګوري.


ولكَ الحمدُ
طيِّبًا مُبارَكًا فيه
4:25 / 13:42

OsoulCenter
www.osoulcenter.com

GUIDE TO ISLAM

د اسلام په هلکه د لا ډیرو
معلوماتو لپاره

CHAT & DECIDE

په بیلابیلو ژبو د اسلام په هکله
خبرې اترې وکړه

Pashto - پښتو

د لمانځـه دا لویـه فریضـه کومـه چـې مسـلمانان پـه شـپه او ورځ کې پنځـه ځـل ادا کـوي او ددې لپـاره د ارام خـوب او کارو کسـب وغیـره پریـږدي دا ځکـه چـې لمونـځ ادا کـول د یـو مسـلمان لپـاره داسـې دي لکـه یـوه مهربانـه مـور چـې خپـل بچـي تـه غـاړه ورکـوي هـر کلـه چـې یـو بچـي وورېـږي پـه بیـړه سـره د خپلـې مـور غیـږ تـه ځـان رسـوي تـر څـو د ارام سـاه واخلـي همدغـه شـان د مسـلمان لپـاره لمونـځ ادا کـول دي نـو پـه دې کتـاب کـې د لمانځـه تفصیـل او شـرحه د الله اکبـر څخـه واخلـه تـر سـلام ګرځولـو پـوري او ورسـره د لمانځـه اړونـد ځینـې مسـائل هـم بیـان شـوي دي. همدغـه شـان تاسـې کـولی شـي چـې پـه لیدنـې بڼـه د لمانځـه طریقـه ددغـه بارکـوډ پـه وهلـو سـره وګـورئ.

ددې کتـاب او داسـې نـورو کتابونـو تـر لاسـه کولـو لپـاره د اصـول کتابتـون فـروش څخـه:

osoulcenter

www.osoulcontent.org.sa

9001

پـه بیلابیلـو ژبـو کتابونـه او داسـې نور
راښکته کول

OSOUL STORE

osoulstore.com